دعوت

ملي، خپلواکه خپرونه

www.dawatmedia24.com

ISBN: 978-82-691395-2-5

د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډیره غوره وي. (سوره النحل ، 125 ایت)

موسس او مسئول چلوونکی:

محمد طارق بزګر

د تأسیس نیټه

1367ل،(۱۹۸۸م):

Dawat Media,
V/M. Tariq Bazger
Vold gt. 37A, 2000
Lillestrom, Norway

ملي سندره

څو چې دا مځکه آسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند په دې جهان وي
څو چې پاتې یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوریت
تل دې وي ملي وحدت

Vol. 241 Sep. 2021 پرله پسې ګڼې ۲۴۱

د دعوت خپرونې دیرشمه (۳۳) کلیزه مو مبارک

د دعوت دا (۲۴۱مه) ګڼه په داسې وخت کې خپریږي چې ګران افغانستان د لویواو ناڅاپي بدلولونو شاهد دی. د افغانستان اسلامي جمهوریت سقوط او د طالبانو واکمنی هغه څه چې ډیر ژر او په ناڅاپي ډول تر سره شول ډېرو افغانانو لا تر اوسه د دې پوښتنې ځواب نه دی موندلی چې دا هر څه ولې او په څه ډول او دومره ژر وشول.

دا هر څه چې وشول، څنګه وشول او ولې وشول که د دې پوښتنو ځواب پر ځای پریږدو او د افغانانو په ټیوسی، نامعلومه او توره راتلونکې فکر وکړو چې څه کول په کار دی او څه باید وشي چې افغانان د ولړې، بېکارۍ او له دې زیات د اقتصادي ترینګلتیا سره مخ نه شي، د ملګرو ملتونو د اټکلونو له مخې له نیمایی زیات افغانان د ولړې له بحران سره مخ او ورځ تر ورځې دا شمېره پورته ځي.

طالبانو واک تر لاسه کړ خو هغه څه چې تر اوسه معلوم او ښکاره دی دوی د دې وړتیا نه لري چې حکومتي چارې په سمه توګه پر مخ یوسي او د افغانانو احساسات، غوښتنې او ضرورتونه درک کړي.

افغانان په مجموع کې د ژور خفګان او غم سره مخ دي د حکومت او نظام اډانه او چوکاټ چې وروستیو شلو کلونو کې جوړ شوی وو له منځه لاړ، اردو او پوځي وسایل لا تر اوسه طالبانو ته مهم نه دی او له دې ډرکه عاجز دي چې د یو نظام هېواد له پاره د ملي اردو درلودل څه مانا لري.

له طالبانو په کلکه غواړو چې د وخت او افغانانو حساسیت، ضرورتونه او غوښتنې درک کړي او پرېنږدي چې افغانان روان سیلاب په مخه او د تورمخو ګاونديانو د دسیسو او غوښتنو بنکار شي له دې وروسته د هر ډول راتلونکې درونو مسئولیت د طالبانو په غاړه دی او دا دوی دي چې په خپل ولس او هېواد تکیه کوي او که د تورمخیو ګاونديانو د ګټو او دسیسو بنکار کیږي دا به وروسته د وخت په تېریدو روښانه شي چې طالبان کومه لار او خط غوره کوي

په پای کې یو ځل بیا د دعوت د درېدیرشمې ۳۳ کلیزې مبارکي تاسو ټولو بناغلو او اغلو، د عوت مېډیا ټولو درنو همکارانو او مینه والو ته وایم.

دعوت ستاسو او ستاسو له پاره او تاسو د خپل دعوت یاست

دعوت له ۱۹۸۸ - ۲۰۱۸

مینه او درنښت

محمد طارق بزګر



د نارویژي پښتو قاموس په اړه معلومات (۱۵) مخ



کله چې طوطي والوت

په انګلیسي ژبه یوه افغانه ښاپیرۍ په کیف کې (۱۵ مخ An Afghan Beauty in Kiev)

مخ پر وړاندې د خپلواک، سرلوړي، غښتلی، اباد او یو موټي افغانستان په لور

د دعوت خپروني ۳۳مه کلیزه دې ټولو مینه والو ته مبارک وي

دعوت مېډیا د افغان ولس غږ

قدرمنو لوستونکو !

د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز ویاړي چې د خپلو رسنیزو فعالیتونو د لیارې د هیواد په دې ټاکونکو او حساسو شیبو کې په ملي افغاني روحیه د افغانستان په روانو حالاتو باندې په علمي څېړنو، تحلیلونو، او تبصرو له لارې خپل هیواد او هیوادوالو ته د خدمت مصدر ګرځیدلي یو.

د دعوت ملي خپرونه د خاورې تمامیت، ملي ګټو او د ملي یووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، لیکوالانو، او روښفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانیستلی سنګر، هڅه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هیواد او ولس کورنۍ او بهرني دښمنان وروپیژني او تر ممکن حده د دوی خاینانه دسیسې او توطیې شنډې او خنثی کړي.

په هیواد کې د سولې، ولسواکۍ، ټولنیز عدالت، وګړیزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکي، د قلم او بیان د ازادي، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنیو بنسټیزو اسانتیاو د برابرولو، او په لنډه که ووایو د دموکراتیکو لارو، نه د "زور، زر، او تزویر" د لارې، د افغانانو د غوڅ اکثریت په خوښه د یو غښتلی او ملي مرکزي ملي حکومت د جوړیدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بیائي.

خو!

د دې څراغ د روښانه ساتلو د پاره د ګرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاریو ته د هر وخت نه خورا زیات ضرورت دئ، که زموږ د پالیسۍ او د دعوت د ملي خپرونې د محتوا سره موافق یاست نو موږ د دې جوګه کړئ چې د دعوت میډیا خپرونې او دعوت خپرونه د نړۍ او ګران افغانستان ګوټ ګوټ ته ورسوو، او د هغه ناامیده هیوادوالو له پاره د امید ډیوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله یې خپل امید د لاسه ورکړی دی، او داسې چیرته چې افغان وي هلته دعوت وي یانې دا چې ډیرو هیوادوالو ته دعوت ورسېږي او زموږ هڅې به هله بیځایه نه وي چې یو زیات شمیر هیودوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسیدل ستاسو درنو هیوادوالو او د دعوت مینه والو د مالي مرستو پرته ناشوني دي.

زموږ هیله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې ونه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په لیکل شوې پته راواستوئ:

د بانک او یا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.

یو ځل بیا وایو :

((دعوت میډیا د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي ډلې نمایندګي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پورې تړلې ده. دعوت میډیا د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپرونې کوي چې ځوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د پخوا نه زیات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتیا لري))

ستاسو نه مخکې له مخکې مننه

د دعوت اداره

دعوت مېډیا ستاسو او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هیواد نه خپریږي. د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي او غیر سیاسي ډلې استازیتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپریږي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو لیکنو مسئولیت د درنو لیکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره لیکنه دې د دعوت د نشراتي پالیسۍ سره برابره وي.

DAWAT MEDIA,
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
Tel. +47-63844384 Mobil: +47-90856195

ISBN: 978-82-691395-2-5

Orgnr (Reg#): 985160058

د انترنت په نړیواله شبکه زموږ د ویبپانو پتې

د دعوت می ویبپاني:

www.dawatmedia24.com

www.afghansabawoon.com

زموږ د بریښنا لیک پته:

dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب

Account for international payments:

NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره Vipps: #557320

څنګه کولی شئ د دعوت مېډیا مالي مرسته وکړی:

خپلې مرستې (پیسې) د دعوت په پاسنۍ پوستی بانکی یا پته راولیږي. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلك دي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د فعال ساتلو او د شوو ژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د بریالیتوب او لاښه پرمختګ زیری دی. هر افغان باید تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډګر ته راووځي، خپل مسئولیت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

د هېواد روان وضعيت او د لوستو ځوانانو مايوسي

صبغت الله عاطف

وروسته له هغه چې طالبان د افغانستان په ولايتونو او پلازمېنه حاکم شول، په ټولنيزو رسنيو کې ډېر شمېر ځوانان خپل غږېو نيولي او ژړغوني تصويرونه په والونو او سټوريو نشروي او په دې توګه د خپلو احساساتو اظهار کوي.

ښکاره ده، دغه لوستي ځوانان په جمهوريت کې را لوی او پالل شوي، د جمهوريت تر چتر لاندې يې زده کړې وکړې، د بيان ازادۍ او د ژوند نورو ډېرو اساسي حقونو څخه برخمن شول.

ملي ارزښتونه چې يو وخت ليلام او بې قدره شوي وو، په جمهوريت کې يې درناوی وشو، ورځې يې ونمانځل شوې او خلکو ته يې د ارزښت په اړه پراخ پوهاوی وشو.

که د يو ملي ارزښت (ملي بيرغ) مثال راوړو، او د ازادۍ او ملي بيرغ لپاره په ځانګړو شويو ورځو کې مو له ملي بيرغ سره د خلکو مينه ننداره کړې وي، نو پوهيدلی شئ چې دا نښان د ځوان قشر لپاره څومره باارزښته دی.

د هېواد ملي امنيتي ځواکونو ورځې نمانځل يې يو بل ښه مثال کيدای شي چې په دې ورځ به د هېواد سرتيري ستايل کيدل او خلکو ته به له خپلو سرتېرو د ملاتړ انګېزه ورکول کېده، خو اوس خلک احساسوي چې له يو ملي پوځ څخه بې برخې دي، ملي بيرغ يې ښکته شوی او منتخب ولسمشر يې تبعيد شوی دی.

د ملي بيرغ ښکته کېدل، د ملي پوځ ګونګ برخليک او له هېواده د ولسمشر تبعيد رښتيا هم ټکان ورکوونکي وو او د جمهوريت پلويان يې ذهناً وځپل.

ښه نو، يعنې مور په پوره توګه مات شوو؟

تاسو مو خپل راتلونکی تياره وينئ؟

فکر کوئ د فردي ازادۍ له حقه محروم ياست، د بيان ازادي به مقيده وي او نور به د خپلو حقونو لپاره غږ پورته نه شئ کړای؟

اول خو په دومره لوړه کچه مايوسي نه ده په کار، بايد تر يوه بريده هيله من واوسو، ځکه طالب چارواکو په خپلو ويناوو کې انعطاف ښودلی، بيا که وګڼو چې رښتيا هم مونږ يو بد وضعيت ته تلونکي يو، نو ايا ماتېدل او مايوسي يې حلاره ده؟

يعنې اوښکې توی کړو، وژاړو، لاس تر زنې کېنو او ننداره وکړو چې زمونږ له راتلونکي سره څه کيږي؟

نه په هيڅ صورت نه، مونږ بايد له انسجام پس په خپل قوت باور ولرو، دا هېواد او دا خاوره خپله وګڼو او هغوی چې دلته حاکم دي بايد کار وکړي او د خلکو ارادو سره په تقابل کې واقع نه شي.

مونږ به کله هم غلي نه پاتې کېږو، د خپلو ملي ارزښتونو ساتلو لپاره به مبارزه کوو، خپل غږ به اوچت ساتو او په دې لاره کې به د هيڅ ډول ويرې او ډار احساس نه کوو.

دلته بايد ولسواکي او د بيان ازادي وي، ملي پوځ ولرو، ديني او ملي ارزښتونه، ملي هويت او ملي سمبولونه مو بايد خوندي وي.

زمونږ ډېر شمېر ملګرو هغه وخت چې وضعيت خورا ګوابښونکی و او هره شېبه د چاودنو او هدفي وژنو وېره وه، په هسکه غاړه مبارزه وکړه، اوس هم هماغه زړور او سرښندونکي ځوانان لرو، بس يوازې د مايوسۍ له دې ګردابه راوتل غواړي.

اوس خو زمونږ مسؤليت لا درونه شو او لا ډېرو هڅو ته اړتيا ده تر څو زمونږ او ستاسو هېواد زمونږ د ارادو سره سم مديريت شي.

ژوندی دې وي افغانستان!

سرلوړي دې وي زمونږ باشهامته او زړور ځوانان

ډېر زر قضاوت مکوئ

يو کس په فاحشه خانه کې مړ شو او يو بل کس په جومات کې !

خلکو خپل قضاوتونه وکړل ځکه عقل يې په سترګو کې وو .

خو لومړنی کس د نصيحت لپاره فاحشه خانې ته تللی وو او دوهم هغه د بوټانو د غلا لپاره جومات ته .

عقل مو له سترګو سر ته ور ستون کړئ او د يو بل په اړه له قضاوتونو تير شئ .

دا ومنئ :

هر د ږيرې والا مؤمن نه دی،

هر خوږ ژبی چاپلوس نه دی،

هر خندیدونکی خوښ نه دی،

او هر څوک چې پلی روان دی يا پر بايسکل سپور دی، هغه غريب نه دی.

ډېر زر قضاوت مکوئ

بدلون د ژوند يو اصل

قدرت الله هېوادپال

بدلون د ژوند يو اصل دی، هيڅ څه پر خپل حال نه پاتيږي، هر څه بدليږي، ځينې وخت دا بدلونونه زمونږ له خوښې سره سم وي او ځينې يې زمونږ پر خوښه نه وي چې مونږ يې خپله ناکامي بولو، يا مو زړه ماتې کوي، خو ژوند هيڅکله نه دريږي، بريالي هغوی دي چې له هر زړه ماتيدنې سره ځان راغونډ او بيا راپاڅيږي.

پر ملتونو او هېوادونو سختې راځي، د نن هر پرمختللي هېواد سختې ګاللي دي، هر هغه څه چې څوک فکر کوي ارزښت لري زحمت او خواري غواړي، انسان عموماً له شته حالت سره خوښ وي، سره لدې چې ښه به پوهيږي شته حالت دومره ښه نه دی، خو له بدلون څخه په شعوري يا غير شعوري ډول ويريږي.

بدلون عموماً له ويرې او ابهام سره مل وي، زمونږ باور تر ډيره پر دې ولاړ وي چې هر څه زمونږ په لاس کې دي او هر څه چې وغواړم کولای يې شم، نو کله چې مونږ له بدلون سره مخ شو نو دا هر څه په واک کې لرل مو د پوښتنې لاندې راځي، چې د دې پوښتنې سبب ګرځي چې که چيرې هر څه مې په واک کې نه دي نو زه به څه کړم.

دا ابهام يا ناباوري پيدا کوي، دا د راتلونکي په اړه باور نه لرل د ويرې سبب ګرځي، او ويريدونکي شخص څخه بيا ډير څه خطا وي، نو ځکه له هر څه تر ټولو دا مهمه ده چې يو څوک پوه شي چې يو څه پرې څه اغيزه لري.

انساني فکر په اړه ويل کيږي چې عموماً خلک ژوند ته له دوه ډوله فکر سره ګوري، يو ډول يې هغه خلک دي چې فکر کوي ژوند کې هر څه ثابت دي او د ډيريدو امکان يې نشته، هر څه له پيله ويشل شوي دي که در ونه رسيدل نو بيا نه دررسيږي، بيا بل ډول فکر يې دا دی چې ژوند يوه دوامداره پروسه ده، ضرور نه ده چې څه دررسيدلي دي خو ته کولای شي چې له دوامداره ودې يا هڅې سره ډير ترلاسه کولای شی.

که ژوند ته د يو ثابت واحد په توګه وګورئ نو ټاکلي پايلې لري نو هر کله چې هغې ټاکلې پايلې ته ونه رسيدئ ناهيلي کيږئ، لکه که چيرې تاسې خبرو اترو ته لدې فکر سره کينئ چې پر ميز ټاکلې اندازه پيسې دي پدې خبرو اترو او مذاکره کې بايد هڅه وکړم چې دا ټولې يا لږ تر لږه ستره برخه يې خپله کړم، يعنې دا باور ولرئ چې پيسې ټاکلي او د ډيريدو امکان يې نه شته.

لدې فکر سره به مقابل لور ته د دښمن په سترګه ګورئ يا به دا فکر کوئ چې د هغې برخه کمه شي تر څو زما ډيره شي، يا به حالاتو ته دا فکر کوئ چې هر څه وکړم حالات زما په تاوان دي او د حالاتو بدليدل زما د نيمګړتيا او وروسته پاتې کيدو سبب ګرځي.

خو که يوه دوامداره او مخ پر وده فکر ورته ورکړئ نو ډير څه ته رسيدلای شئ، اوس که همدې خبرو اترو ته له دې اړخه وګورئ چې د دې پر ځای مونږ يو بل ته مقابل شو او د هغې ګټې پر کمولو خپله ډيره کړم، ولې دواړه کار ونه کړو او اصل لوی نه کړو، نو که چيرې پر ميز پيسې ډيرې شي يا داسې فکر ورته وکړو چې اصل ډير شي نو د دواړو ګټه به ښه شي.

لدې فکر سره تاسې هر حالت ته لدې نقطې نظره ګورئ چې د حالت بدليدل زما په واک کې نه دي، خو زه کولای شم هغه څه تر نظر لاندې کړم چې کولای شي پر ما مثبته اغيزه وکړي، ورسره دې ته وګورئ چې د مقابل لوري په اوسنۍ حالت کې څه ګټه ده او څه غواړي.

اوس که بيرته د ابهام او ويرې بحث ته راشو، نو بدلون نه دريږي، هر څه بدليږي، مهمه پکې دا ده چې يو څوک څرنګه کولای شي ځان لدې بدلون سره عيار کړي، که په ژوند کې اهداف لرئ، نو اهداف مو پر ځای پاتې دي، ښايي يوازې هغه اهدافو ته رسيدو لاره چاره مو بدله شوې وي.

د ابهام له منځه وړلو تر ټولو آسانه او ښه لار ځان پوهول وي، او هر څومره چې پوهيږئ، سر مو خلاصيږي چې هيڅ څه ثابت نه دي، هر بدليدونکي حالت ته بايد تيار اوسئ، ورسره پر دې هم پوهيږئ چې هر څه زمونږ په واک کې نه دي، که له عقيدې اخوا هم ورته فکر وکړئ، هر څومره چې په حالاتو پيچلي کيږي هغومره د يوه شخص له واکه وځي.

د پيچلوالي يو اصل پر حالاتو د ډيرو عاملينو (فکټورونو) اغيزه ده، او هر عامل بيا د خپلو ګټو په رڼا کې عمل کوي، نو ځکه هره هغه چاره چې ډير فکټورونه (عاملين) ولري همدومره يې وړاندوينه سختيږي، بيا د همدې عاملينو د معاملو او تقابل له کبله پيچلي چارې ځان بدلوي او له يوه دوامداره بهير تيريږي.

بدلون د ژوند اصل دی، هر څه بدليږي، لدې بدلون سره اړونده ابهام او ويره زمونږ پر احساساتو اغيزه کړي، دا احساسات بيا ښايي مونږ داسې لارو چارو او کړو وړو ته برابر کړي چې په عادي چارو کې يې ښايي ونه کړو، نو ځکه له هر بدلون سره څوک بايد پوه شي چې زما پر احساساتو يې څه اغيزه کړی او څرنګه دا احساساتو زما پريکړې تر اغيزې لاندې راولي.

له بدلونه بهتره تيريدو لپاره، ښايي لاندينې ټکي په پام کې ونيسئ.

(۱) هیڅ څه پر خپل حال نه پاتیږي، که نن فکر کوئ چې دا بدلون ستاسې په ګټه نه دی نو ښایي د همدې بدلونونو له کبله به له داسې لارو چارو سره مخ شئ چې هغه به مو په ګټه وي.

(۲) بدلون په خپل ذات کې ښه او بد نه وي، هغه فکر چې تاسې یې دې بدلون ته لرئ، هغه یې ښه او بد ټاکي، وګورئ چې تاسې یو بدلون ولې ښه یا بد ګڼئ، او آیا دا قضاوت مو پر ځای دی.

(۳) له بدلون سره د واک له لاسه ورکولو یا بیوسئ احساس مل وي، دا بیوسي ښایي د خپګان سبب شي، هڅه وکړئ دغه د بیوسئ احساس مطرح کړئ، انسان په هیڅ صورت کې بې وسه او بې توانه نه دی، یوازې ښایي د خپګان یا احساساتو له کبله نه غواړي هغه چارې ته لاس واچوي چې دې ته د بیوسئ احساس ورکوي، هر څوک د خپلو حالاتو بدلولو توان لري، اوس چې دا هڅه کوي یا نه، هغه بیل بحث دی.

(۴) له بدلون سره ابهام او ویره مل وي، ابهام د معلوماتو نشتون او احساساتو بې واکئ له کبله رامنځ ته کیږي، ځان پوه کړئ او پر احساساتو واک ولرئ، ویره مو "د یو څه نه کولو یا د یو څه نه کولو توان نه لرلو" له کبله رامنځ ته کیږي، ځان پوه کړئ چې پدې بدلون کې څه کولای شئ، کوم توان لرئ چې دا بدلون د ځان یا د نورو په ګټه واړوئ.

مهمه نه ده چې د ژوند هره چاره دې زمور په خوښه وي، هر څه د بدلون په حال کې دي، کله کله یو نیم بدلون ډیر لوی وي او هر څوک پرې غږیږي چې د دغې غږیدو له کبله مور فکر کوو دا بدلون به رښتیا هم مهم وي چې هر څوک یې یادوي او ښایي پر هر چا اغېزه وکړي، خو باید مور ټول پوه شو ضرور نه ده هغه چې ټینګ ته چې ټول ناڅي تاسې هم ورسره په نڅا شئ.

ځان پوه کړئ بدلون چې آیا دا بدلون تاسې ته په شخصي توګه مهم دی، پر تاسې څه اغېزه لري، آیا د دې اغېزې بدلولو لپاره څه کولای شئ، څه اغېزه لري، ولې دا اغېزه ښه یا بده ده، زه څه توانونه لرم، څرنګه کولای شم لدې بدلون سره ځان عیار کړم، عقیده او پر الله توکل هم د همدې عیارولو برخه ده.

له بدلون څه د ویرې یوه لویه برخه ځان بې واکه احساسول وي، او هیڅوک بې واکه نه دی، یوازې هغه فکر غواړي چې څرنګه کولای شي لدې بدلونه ښه ګټه واخلي، فکر وکړئ لاره به پیدا کړئ.

د نامتو کولمبیایي لیکوال ګبریل ګارسیا مارکیز له نظره ژوند

نوراحمدعایل



√په ۱۵ کلنۍ کې په شوم چې مورګانی تر ټولو هوښیاری او په هرڅه ښې پوهېری خو کله،کله پلاران هم بیا یو څه ګوزاره کوی.

√په ۲۰ کلنۍ کې په شوم چې ناسم او خراب کار که په هرڅومره بهترینه او احسنه طریقه هم سرته ورسېری چندان کار ندی او فایده نه لری.

√په ۲۵ کلنۍ کې په شوم چې تی خوری ماشوم مور له یوی بهترینی اته ساعته ورځی او پلار له ارامی اته ساعته شپی څخه بی برخی کوی.

√په ۳۰ کلنۍ کې په شوم چې قدرت هغه کشش او جاذبه ده چې نارینوو ته خلک ورماتوي او کشش و جاذبه هغه قدرت دی چې ښځینه وو ته خلک ورماتوي.

√په ۳۵ کلنۍ کې په شوم چې راتلونکی هغه څه ندی چې په میراث راپاتی دی بلکی هغه شی دی چې خپله یې جوړوو.

√په ۴۰ کلنۍ کې په شوم چې د نېکمرغی راز په دی کې نه دی چې هغه کار سرته ورسوو چې خوښېری مو ، بلکی هرکار چې سرته رسوو باید خوښ یې کړو او په مینه یې سرته ورسوو.

√په ۴۵ کلنۍ کې می زده کړل چې د ژوند ۱۰ فیصده هغه څه دی چې انسان ته پېښېری او ۹۰ فیصده نور یې ددی ۱۰ فیصدو په اړه غبرګونونه او عکس العملونه دی.

√په ۵۰ کلنۍ کې په شوم چې کتاب د انسان تر ټولو بهترین دوست او په پټو سترګو پیروی او متابعت تر ټولو بد ترین دښمن دی.

√په ۵۵ کلنۍ کې دی خبری ته ورسېدم چې واړه تصمیمونه باید په مغزو او غټ تصمیمونه باید په زړه کې ونیول شی.

√په ۶۰ کلنۍ کې می سر خلاص شو چې بی له مینی هم ځان قربانی کولی شو ، خو بی له قربانی هیڅ وخت مینه نشو کولای.

√په ۶۵ کلنۍ کې په شوم چې انسان له اورده عمر څخه دخوند اخیستلو لپاره باید دهغه څه به خورلو سربېره چې لازم او مهم دی هغه څه‌هم وخوری چې زړه یې ورته کېږی.

√په ۷۰ کلنۍ کې په شوم چې ژوند په ښو او د رنګ په پرو(کارتونو) لوبه کول ندی، بلکی په خرابو او کمزورو پرو ښه لوبه کول دی.

√په ۷۵ کلنۍ کې په شوم چې انسان تر هغه چې په ځان پوهېری چې لا رسېدلی نه دی او لاره ورته پاتی ده خپل رشد او کمال ته ادامه ورکوی خو چې په دماغو کې یې ور وګرځېدل چې بس اتی رسېدلی او تکمیل یم، نو په شه چې خرابېری و خوسا کېږی.

√په ۸۰ کلنۍ کې په شوم چې مینېدل او په یو چا ګرانېدل د دنیا تر ټولو خوږ او لوړ خوند دی.

د طالبانو خطر افغانستان او نړۍ ته

عبدالله خیبر

دا چې جنګځپلیو افغانانو تر هر څه ډېره اړتیا سولې ته درلوده، دا دی جنګ ودرید او افغان وژنه بنده شوه. طالبانو هم ټولو افغانانو ته عفوه اعلان کړه، افغانانو چې د اختر دری ورځې اوربند ته یې اتڼونه او خوشالۍ کولې، د طالبانو افغان ښښنی او جنګ بندۍ به هرو مرو خوشاله کړي وي. دا چې دا افغان ښښنه او جنګ بندي به څومره دوام وکړي، په راتلونکی کی به ښکاره شی. که دوی د تېر په څیر بیا د خلکو پر ځور لاس پوری کړی، د یو ښه او ټولمنلی نظام د جوړولو پر ځای د وګړو په وښتو او لمونځونو پسی وګرځی، بیا به یې وړۍ توپان یوسی او شړۍ به تری جوړه نشی. د طالبانو مذهبی تګلاره له سختدریزۍ ډکه ده، که یې په مکمله توګه عملی کوی، هم د هیواد د بربادۍ لامل ګرځی او هم د نړیوالو په حلوا کی ازغی پیدا کېږی، نړیوال به یو ځل بیا اړ شی چې د دی ازغی لپاره د حلوا کاسه په بل مخ واړوي.

ځانمرګی زمور په ټولنه کی عموماً بدنام او ویروونکی نوم دی، مګر په اسلامی امارت کی په فدایی او اشتشهادی بلل کېږی، په اړه یې په لسګونه ترانی ویل شوی دی، امکان لری طالب هغه ځانمرګی بریدګر چې په تېر حکومت یې بریدونه کړی، په ربښتینو فدایانو/اشتشهادیانو مشهور کړی او پر ولس یې د یو سپیځلی ارزښت په توګه ومنی. امکان لری د امارت ځینی لیکوالان د خپلو شهیدانو او فدایانو تذکری او د دوی پر اتلولیو کتابونه او لیکنی وکړی. د امارت په دی دور کی به د امارت لیکوالان داسی متن ایجاد کړی، که چیرې افغان روښانفکره لیکوالان ورسره کلکه مبارزه ونکړی، امکان لري د افغان د نوي نسل تنکی فکر ګمراه شی، د فکرونو ګمراهی ټولنه ګمراه کوی. ګمراه ټولنه هم ځان خوری او هم نړۍ ته ګواښ پیښوی. د اسلامی امارت په حاکمیت سره به په وطن کی د دینی مدرسو شمېر زیات شی، په هر ولایت کی به مدرسی زیاتی شی، ممکن د پاکستان استخبارات هڅه وکړی چی د لویو مدرسو مشران هغه کسان وټاکی چی له امریکا او افغان حکومت سره یی په جګړه کې په یو نه یو ډول برخه اخیستې وي او درس یی په پاکستانی مدرسو کی ویلی وی، چی دا به افغان ځوانان داسی وروزی چی د نړۍ او انسانیت په اړه به تخریبی او جهادی فکر ولری او د دی مدرسو مدرسین به داسی متن ایجاد کړی چی یوه پیړۍ به د ځوان افغان نسل په مغز کی د جهاد او قتال سپرغۍ بلېږی.

لکه څنګه چی مجاهدینو تر ډېره ولس ته د جهاد ډنډوره وغږوله او آن درسی نصاب ته یی جهاد او جهادی فکر ورننویست، ممکن طالبان هم په اوسنی درسی نصاب کی د بدلون هڅه وکړی او خپله سختدریزه اډیالوژی پکی ورننباسی. چی بیا به افغان ماشومان د (تې ټویک او ج جهاد) په شان کلمی زده کوی. چی دا به راتلونکی نسل په لوی لاس جګړو ته هڅول وی، بله دا چی له طالبانو سره په جګړه کی ډېرو بهرنیانو ترهګرو جنګیالیو برخه اخیستی وه، دا چی طالبان اوس واک ته ورسیدل، او له نړۍ سره یی هم دا خبره کړی چی بهرنی ترهګرو ته به پنا نه ورکوی، او نه به ورسره همکاری کوی، دوی به اوس د پان او پرانګ تر منځه څنګه لاره باسی؟ دوی به یا ځان د پرانګ خولی ته اچوی او یا به له پان نه غورځېږی.

که څه هم طالبان په خپلو خبرو کی په ښکاره وایی چی ښځو ته د شریعت او افغان کلتور په چوکاټ کی حقوق ورکوی، دا به په راتلونکی کی ښکاره شی چی دوی خپلو خبرو ته څومره ژمن دی. بله دا چی شریعت د دوی په لاس کی دی، ممکن ووایی چی اوس د فساد ویره ده، ښځو ته زمینه نه ده برابره چی کار او یا عصری زده کړی وکړی. بله اندیښنه دا چی د دوی دینی مفکوره چی څومره افغانان ورسره بلد دی، سخته او متشدده ده، مشکله ده چی دوی به د نورو اسلامی هیوادونو په شان ښځو ته حقوق او ازادی ورکړی، دا چی اوسنی ښځی د پخوا په شان نه دی، هرو مرو به خپل غږ اوچت کړی، خو طالبان به یی د غږ د خپ کولو هڅه وکړی او د غرب او د غرب د کلتور پلویانی به یی وبولی.... طالبان که پر افغانانو او نړۍ ځان منی، باید ډېر تغیر او بدلون په ځان کی راولی، دا چی دوی هر بدلون او نوښت د کافرو دسیسه بولی، نو مشکله ده چی دوی دی ډېر بدل شی. بله دا چی د طالب ډېر وخت په جنګ او جګړو کی تېر شوی دی، نو د دوی حکومت داری به هم د ملایی په شان وی، عوام به انعام ورته ښکاری او د دوی اصلاح به په زور او جبر سره کوی.

زمری، ګیدړ او خر

کوم ګیدړ د زمری له څنګ تیریده ګوری چی زمری ویده دی، ګیدړ له فرصت ګټه پورته کړه، پری یی راواخیست او زمری یی کلک پری وتاړه، کله چی زمری راویښ شو، ګوری چی بند په بند ترل شوی، چی هرڅومره زور یی وواهه ځان یی خلاص نشو کړای، دې وخت کې یو خر راغی، زمری ورته وویل:

که دی زه خلاص کړم نو نیم ځنګل به تاته دروبښم، خره ورسره ومنله د زمری له پښو یی پری خلاص کړ، کله چی زمری راپاځیده او ځان یی وخنډه، نو خره ته یې مخ وروړاوه ویل زه تاته نیم ځنګل نه درکوم.

خره وویل :

ولی تاخو لر مخکې راسره همداسې ژمنه وکړه.

زمری ورته وویل :

نیم ځنګل نه بلکی ټول تاته پریږدم، ځکه په داسی ځای کی چی ګیدړان راپاځیږی او زمریان تری او بیا بیرته د خره پرمټ خوشې کیږي، هلته نور ماته اوسیدل نه دي په کار.

درس: هیڅکله باید دومره غافل او خوبولی نشو چی ګیدړان مو وتری، او بیا خرو سره د خپل ځان د خلاصولو په پار معاملی ته اړ شو.

دا لنډه کیسه د دعوت په ۲۳۶ ګڼې څخه راخیستل شړې ده

نه یې وینې که په قصد کوې شیطانه منافقه
زه مړ کیږمه ته چُپ یې، مُسلمانه منافقه
د ځوانانو، اتلانو، د ښارونو قاتل ته یې
ورځ به راشي بیا به ګورو پاکستانه منافقه

شهید پروفیسر ارمان لوڼې

جواب های دندان شکن داکتر بشر دوست به بچه جنگ سالار بزرگ پنجشیر



محمد داؤد مومند

داکتر رمضان بشردوست یکی از مبارزان بزرگ ملی و یک فرزند فرزانه واصیل و عدالت پسند مردم افغانستان است.

این جانب حدود پانزده سال قبل ضمن یک مسافرت به کابل، سعادت ملاقات داکتر بشر دوست را در خیمهٔ محقری که بشر دوست آن را «خیمه ملت » نام نهاده بود، حاصل نمودم، این خیمه در طرف مقابل ولسی جرگه که در حقیقت جرگه، فراعنه و جنگ سالاران جهادی و تبهکاران تاریخ کشور بود، قرار داشت.

یکی از مطالبی که من با داکتر بشر دوست مطرح نمودم، مسئله غرامات جنگ تحمیل شده بر ملت افغان بود.

داکتر بشر دوست گفت که پارلمان مملو از طرفداران جمعیت و شورای نظاری هاست و برهان الدین ربانی « در حقیقت بحران الدین جنگانی-مومند» خودش اعلام داشت که دولت موجوده روسیه به زعامت پوتین دیگر مسئول غرامات جنگ نیست زیرا دولت شوروی از میان رفته است.

جای تعجب است که دولت آلمان به تأسی از کشتار اتباع یهودی زمان هیتلر، تا به امروز تحت همین عنوان صد ها ملیون دالر به یک کشور ثالث که در آن زمان اصلاً موجودیت نداشت، یعنی اسرائیل می پردازد ولی بحران الدین جنگانی ملعون، خون بهاء بالغ بر یک ملیون کشته شدگان جنگ نا برابر و تحمیل شده بر ملت افغان را به دولت روس در برابر حمایت علانیه پوتین از جنایت کاران شورای نظار و جمعیت و استقرار قدرت نا مشروع شان از کیسه خلیفه می بخشد!!!

این جانب تقریباً یک سال قبل در مورد شخصیت ملی و مردمی داکتر بشر دوست در سایت وزین آریانا افغانستان مطالی نوشتم که درج آرشیف سایت بسته شده است، امیدوارم مطالب آرشیف بسته شده که حیثیت آرشیف ملی را دارد و مشتمل بر هزاران مقاله ناب و نادرتاریخی، سیاسی، ادبی، و اجتماعی است به برکت روحانیت پدر معنوی و بنیان گذار این سایت وزین یعنی استاد نوری و نبوغ تخنیکی دیپلوم انجنیر صاحب فهیم و زحمات شباروزی انجنیر صاحب هومان، قبل از اینکه برای ابد از میان رود به سایت جدید منتقل گردد، که امکانات استفاده از آن به حیث یک ریفرنس نایاب، مجدداً میسر گردد.

بعد از تمهید مختصر فوق الذکر، میرسیم به جواب های دندان شکن داکتر رمضان بشر دوست به حیث یک منادی بزرگ و صادق و متهورحق و حقیقت گویی و حقیقت پرستی، در برابر ادعای دروغین کذاب بی حیا، بچه جنگ سالار بزرگ پنجشیر احمد شاه مسعود چهار پدره.

داکتر بشر دوست میگوید:«سخنان مضحک احمد ولی مسعود توجه ام را جلب کرد، ولی مسعود میگوید که: «اگر جهاد و مقاومت ما نمیبود، حال افغانستان صوبه پنجم پاکستان میبود.»

بشر دوست سؤال میکند، آقای مسعود:

یک- در سال های 1353 – و 1354 کی ها به پاکستان پناه برده به دکته پاکستان علیه داوود خان در پنجشیر، لغمان و ارگون و نقاط دیگر شورش نمودند؟

منظور بشر دوست شیاطین ثلاثه یعنی: موش پنجشیر احمد شاه مسعود، ارشد الشیاطین بحران الدین جنگانی و ابو ندال افغانستان کلب الدین بی حکمت است- مومند.

دو- احزاب افراطی مشمول حزب جمعیت اسلامی، در کجا و از سوی کیها تأسیس گردید؟

سه- به فرمان کیها تحت نام «اسلام در خطر است» تفنگ برداشته، کشور را به مخروبه مبدل نمودید؟

چهار- جنرال ضیاء الحق به خاطر دفاع پاکستان چی کسانی را حمایت و از کیها تشکر میکرد؟

پنج- کنفرانس «جهاد افغانستان دفاع از پاکستان» در کجا و به اشتراک کیها بر گزار شد؟

شش- اردوی پاکستان با حمایت مستقیم کیها بر شهر جلال آباد حمله نمود که از طرف اردوی حکومت نجیب شکست فاحش خوردند؟

هفت- مگر برهان الدین ربانی پست مشاوریت را به جنرال حمید گل پیشنهاد نکرد؟

هشت- اطلاعات و اسناد محرم امنیت دولتی را کیها به آی اس آی تسلیم نمود؟

نه- فرمان منحل اردوی منظم و سر تا پا مجهز کشور از جانب نواز شریف صدراعظم پاکستان از سوس کیها تطبیق شد که نواز شریف در پارلمان پاکستان از آن به افتخار یا آوری نمود؟

ده- کدام گروپ و حزب و رهبرانش با شوروی پروتوکول و پیمان سالنگ و جبل السراج امضاء نموده بود؟

یازده- امنیت کاروان قطعات نظامی شوروی در مسیر راه سالنگ، از سوی کی و کدام گروپ تأمین میشد؟

دوازده- چی کسی برای گرفتن قدرت دست گدایی به شوروی دراز کرد؟ و صدها مورد دیگر.

آیا ممکن است که سران جنایتکار شورای زمرد فروشان پنجشیر و جمعیت، ستم پرچم، خائن به تمام منافع و مقدسات ملی، جوابی به سؤال های مطروحه داکتر رمضان بشر دوست داشته باشند؟ این خیال است و محال است و جنون

امیدوارم زعامت جدید طالبان از فرزندان فرزانه کشور مانند داکتر بشر دوست، در قسمت خدمت به مردم و کشور، استفاده اعظمی به عمل آورند، نه از مشارکت اجباری سران مردود شورای نظار و جمعیت و سائر گروه های مفسد جهادی به نام «حکومت همه شمول.»

ډیپریشن Deepression

لیکنه: جاوید چوهدري

ژباړه: ظاهر عمار

دا شپږ کاله پخوانۍ خبره ده، ما یوه متوسطه کمپنۍ چلوله. مورږ به امریکایي کمپنیو ته د (آئی ټي سلوشن) په برخه کې خدمات وړاندې کول. زمورږ في آئی ټي سلوشن به د لس پنځلس ډالرو په بیه وو خو د ګاهکانو شمېر مو هومره ډېر و چې همدا لس پنځلس ډالر چې به سره جمع شول، ډېر شی به تري جوړېده. زمورږ کمپنۍ شاوخوا درې- درې نیم سوه کارکوونکي درلودل، دوی به له خپلو کورونو له مورږ سره همکاري کوله. مورږ به د هغوی کار تر ډېرو مراحلو وروسته چاڼ او په نړۍ وال معیار برابر کړ او بیا به مو پر نورو کمپنیو خرڅاوه. زمورږ ژوند خورا ښه روان و خو ناڅاپه د هغه وخت امریکایي ولسمشر، باراک اوباما خپلې پالیسۍ بدلې کړې. په اروپا و امریکا کې د پاکستان په اړه عمومي ذهنیت خراب شو او همدا چې نورو کمپنیو ته به معلومه شوه چې مورږ یوه پاکستانۍ کمپنۍ یو، له مورږ سره به یې اړیکې پرې کړل. آخر کې کیسه دومره خرابه شوه چې زمورږ کاروبار په تېزۍ سره مخ په سقوط روان شو، بانکي حسابونه مو خالي شول، کارکوونکي مو بې روزګاره شول او مورږ د پرېشانۍ په حالت کې یوه بل ته کتل. دا وخت زما د عاید او آمد یوازې یوه سرچینه پاتې وه او هغه خبریالي وه. زه هغو ورځو کې په ډیپریشن اخته شوی وم. زه د ډیپریشن په حالت کې عجیب و غریب کارونه کوم، پیاده ګرځم او په تلو تلو کې کله کله یوه بل کلي یا ښار ته رسېږم. هوایي ډګر ته ځم او د هر ځای سفر چې راته برابر شي، الوتکې ته ورپورته کېږم. اورګاډي ته خېژم یا کوم محلي بس ته ورپورته کېږم او ټوله ورځ پکې ګرځم او یا هم یوې زړې ټیکسي کې کېنم او ډرېور ته وایم، ته روان اوسه او هر چېرته چې مې زړه وي، هملته تري کېوزم او بیا پیاده روانېږم. د ډیپریشن ختمولو دا طریقه ما خپله اختراع کړې او کم از کم زما په حق کې همېشه نهایت ګټوره ثابته شوې.



ما هغه ورځ هم همداسې وکړل، له کوره راووتم او یوې نهایت زړې ټیکسي ته پورته شوم، دا د ۱۹۸۷ کال ایف ایکس ماډل موټر و. بدبختي ګوره چې یوې پرزې یې هم سهي کار نه کاوه، تلو تلو کې یوه او بل طرف ته تاوېده راتاوېده، ډرېور تر موټر هم ډېر زوړ و. په مشکله به مې ایله یو کیلومټر سفر پکې کړی و چې ډیپریشن مې په وېره بدل شو، سخت ووېرېدم او ډرېور ته مې زاري شروع کړې چې موټر ودروي. ډرېور په ډېره سختۍ برېک وواهه او موټر یې ودراوه. زه تري کېوتم، جېب ته مې لاس کړ، د پنځو سوو نوټ مې راویوست، ډرېور ته مې ورکړ او خپله پر پیاده‌رو روان شوم. شېبه وروسته مې داسې احساس کړه چې شاته راپسې یو څوک منډې راوهي، په وېره مې شاته وکتل، د همغې ټیکسي بوډا ډرېور منډې راوهلې، زه ورته ودرېدم، هغه ناروغ او سپین ږیری و، په مشکله یې تر ما ځان راورساوه، اوږدې اوږدې ساګانې یې واخیستې او چې دمه یې راست شوه، په غریو نیولي آواز یې وویل، ښاغلیه! غواړم لاسونه دې ښکل کړم!

آه، څه جالبه ده، زه اوس خپلې ظاهري او نامنهاد کامیابۍ دې حد ته رسولی یم چې زما غوندې کوچنۍ کسان هم ځان ته په تقدس قایل دي او فکر کوي چې هر سړی به یې فېن (مینه وال) وي. ما هغه بوډا ډرېور هم خپل فېن وباله او په متکبرانه لهجه مې ورته وویل، نه نه! هیڅ خبره نه ده باباجانه، زه هم ستا غوندې انسان یم!

بوډا ډرېور زما خبرې ته له پاملرنې پرته وویل، ښاغلیه! دا څلورمه ورځ ده چې سورلۍ مې نه وه موندلې، کور کې مې له دوو ورځو ټول نهر دي، تاسې د یوې فرشتې په توګه راغلئ او پنځه سوه روپۍ مو راکړې. اوس به وړه او دال واخلم او سیده به کور ته ولاړ شم او د خپلې کونډې لور په شمول به خپلو لمسیانو ته هم خواړه تیار کړم خو تر تلو مخکې خامخا غواړم چې د خپل محسن لاسونه ښکل کړم!

سپین ږیري ډرېور دا خبره وکړه او زما پر لاسونو راپرېووت او په خپلو ګونځو لاسونو کې یې ونیو. زه په بېهوښۍ ته ورته حالت کې حیران ولاړ وم او هغه ته مې کتل. زه همغه وخت متوجه شوم چې زما کاروبار تازه- تازه سقوط شوی او زه د پرځېدو په حال کې یم خو بیا هم د دې سړي له نظره د دنیا تر ټولو شتمن کس یم. زه یوازې د پنځو سوو روپو په وجه د هغه له پاره مسیحا او ژغورونکی یم. هغه شېبه یوازې دوه کسان پر پیاده‌رو ولاړ وو، زه او هغه سپین ږیری. ما ځان ناکام، پرېوتی او بایلونکی ګاڼه خو د هغه سپین ږیري ډرېور له نظره د دنیا تر ټولو کامیاب، شتمن او سخي کس وم.

جټکه مې وخوړه، سمدستي مې ډرېور له لاسه ونیو، هغه مې پر خپل ځای ودراوه او زه د هغه پر ځای ودرېدم او بیا هغه شېبه راغله چې زه یې د دنیا په څلورم لوی حقیقت پوه کړم او هغه حقیقت دا دی چې مورږ تر ناکامۍ، بدحالۍ او زوال وروسته هم کوم ځای ته رسېږو، همغه ځای ته رسېدل د لکونو، میلیونو

بلکې میلیاردونو انسانانو د ژوند تر ټولو لوی ارمان وي. ډېر خلک تر څو نسله خواری. او زحمت وروسته هم هغه ځای ته نه شي رسېدای کوم ځای ته چې مور له لوړ ځایه تر راپرځېدو او ناکامۍ وروسته رارسیږو. زمور په هېواد کې اوس هم میلیونه انسانان یوازې د پنځو سوو روپو له پاره ټوله ورځ پر پیاده‌روونو تېروي. مور چې کومه ورځ د بوتل اوبه ونه مومو او د بمبې اوبو څښلو ته مجبور شو، هغه ورځ همغه د بمبې اوبه د میلیونو انسانانو د ژوند لوی ارمان وي. مور د هوټل پر مېز نیم برګر پرېږدو او کور ته راځو خو لکونه خلک د همدې نیم برګر ترلاسه کولو له پاره ټول عمر د آسمان په طرف ګوري. مور رستورانټ کې فقط د خولې خوند او د مېز د رنګ جوړولو له پاره څلور ډوله خوراکونه راغواړو او که خوند یې رانکړ، همغسې سلامت یې پرېږدو او تر یې پاځېږو خو دنیا کې همدا اوس میلیونونه داسې کسان شته چې د دغسې خوراکونو د خوشبو بویولو له پاره د کورونو مخې ته پرتو ډبرانونو باندې ګرځي. مور د چایو پر ځای کافي څښو خو زمور په شاوخوا کې لکونه داسې خلک شته چې چای ورته د دنیا تر ټولو لویه عیاشي ښکاري. مور د شپې په زړو او ناولو جامو کې ویده کیږو، زمور څلور کاله پخواني سلیپر بوټان، مات شوي قابونه، ځیرې شوي کتابونه، خرابې شوې کتابچې او زمور د ماشومانو خراب شوی د لوبو سامان دا ټول د میلیونونو انسانانو د ژوند تر ټولو لوی ارمان وي.



ببخي ډېر خلک د یوې خلتې اوړو، یوه ډبې غوړیو او یوې قاشوغې سرکې له پاره ټوله ورځ په پردیو کورونو کې تېروي. ځان ته جامې اخیستل، له خپله جېبه روپۍ راویستل او له دوکانه د خپلې خوښې سودا اخیستل، دا خوښي د دوی د ژوند لوی ارمان دی. دوی د ژوند دغسې سطحې ته د رسېدو له پاره هره ورځ خدای ته ژړا او زاری کوي. مور دولسم پاس یو، له لیسانس دورې په درېیمه درجه فارغ شوي یو، څلورو کالو کې مو په ډېره خواری. او سختۍ ماسټري ترلاسه کړې او بالآخره د سل و شل واسطو او د مور و پلار او کورنۍ تر یو عالَم دعاګانو وروسته راته کومه اداره کې د محرّر وظیفه پیدا شوې. له مور سره یوازې یو زوړ موټرسایکل او یو مات بایسکل دی، یو ایف ایکس ډوله موټر کې ګرځو او نیمه نمره کور کې اوسو خو مور هیڅکله دا فکر نه دی کړی چې دنیا کې به څومره خلک له څو نسلونو دا ارمان په زړه کې ګرځوي چې نیمه نمره ځمکه کې یو کور جوړ کړي. د هند په ممبۍ. او کلکته کې اوس هم لکونه انسانان پر پیاده‌روونو پیدا کیږي، ټول ژوند هملته تېروي او پای کې هملته مري هم. بیا ورپسې د ښاروالۍ موټرې راځي، د دوی مړي پورته کوي او له نور ګند سره یوځای یې وړي او یوې کندې ته یې غورځوي. تاسې همدا نن د خپل مات بایسکل د پلورلو اعلان خپور کړئ، د کور مخې ته به مو لسګونه کسان کتار ولاړ وي او د همدې مات بایسکل د پېرودلو په خاطر به د یوه بل سر ماتوي. همدا مات بایسکل د دوی د ژوند تر ټولو لوی ارمان دی. تاسې له دولسمه تر فراغت وروسته خپلې شاوخوا ته وګورئ، میلیونونه انسانان به وګورئ چې د دولسم ټولګي سند نه لري. دا ډول خلک له نسلونو-نسلونو عالي ښوونځیو ته د داخلېدو ارمان په زړه کې ګرځوي خو تر مرګه د ښوونځي پر دروازه نه شي ننوتلی. زمور په هېواد کې (لیکوال د پاکستان خبره کوي خو دا ټولې اجتماعي بې عدالتۍ. او ناورینونه زمور په خپل هېواد کې تر بل هر ځای ډېر دي. ژباړن) میلیونونه خلک یوه اداره کې د محرّر د وظیفې ترلاسه کولو له پاره حتا دې ته تیاریږي چې د خپلې سویې مامور پښې ښکل کړي او میلیونونه داسې خلک به هم وموميء چې ستاسې د کورنۍ. پیشو او جرمن سپي پاتې شونې خوراک ته به هم د ارمان په نظر ګوري. دوی څو نسلونه وروسته هم دغسې خوراک نه شي خوړلای. زمور په هېواد کې اوس هم نهه نوي فیصده خلک الوتکه کې سفر نه شي کولای، دوی حتا د هوایي ډګر ټرمینل نه دی لیدلی. اویا فیصده خلک مو تر اوسه کمون نه پېژني او اتیا فیصده خلک نه پوهیږي چې کافي څه ډول خوند او ذایقه لري. لکونه خلک مو د پیناډول او شوګر ګولۍ. او د لوړ فشار د دوا په ارمان مري. ډېر خلک مو د قصابانو د دوکانونو مخې ته پرتې غوښې راټولوي او د خوراک له پاره یې پخوي. هډوکي جوشوي او خوري یې، د خلکو استعمال شوې او غورځول شوې جامې اغوندي، څلور او پنځه کاله د خلکو زاړه سلیپر په پښو کوي او د حلوا، کېک او ملایي د خوند څکلو په ارمان له دنیا رخصتیږي.

ما به پنځه کاله پخوا د کاغذ پر یوه مخ لیکل کول او بل مخ به مې تش پرېښود، یوه ورځ مې یوه ملازم راته وویل، دا کاغذونه ماته راکوه. ما ترې وپوښتل ولې؟ ویل، زه به یې خپلې لور ته ورکوم او هغه به یې پر تش مخ خپله کورنۍ وظیفه لیکي. له همغې ورځې مې د هغې د لور د کتابچو او کتابونو مصرف پر غاړه واخیست او د کاغذ پر دواړو مخونو مې لیکل شروع کړل. زه چې رستورانټ کې ډوډۍ خورم، قاب کې خواړه نه پرېږدم، پیک کوم یې او چوکونو کې ولاړو ماشومانو ته یې ورکوم. مور هیڅکله دا فکر نه دی کړی مور چې په خپل ژوند کې کومې ناکامۍ، محرومۍ او زوال ته خپګان کوو، همغه ناکامي، محرومي او زوال د څومره خلکو د ژوند تر ټولو لوی ارمان وي او دوی څو نسلونه وروسته هم د خرما هغې ونې ته نه شي ورختلی چې مور یې له آسمانه تر راغورځېدو وروسته سر کې ناست یو او خپل پاتې ژوند په ناشکرۍ. او ګیلو تېروو.

هغه سپین ږیری ډرېور مې مخې ته ولاړ و، د هغه ګونځي لاسونه مې په خپلو لاسونو کې ونیول او په سلګو سلګو مې ژړل، هغه اریان دریان راکتل. هغه دې ته حیران و چې زما په جېب کې خو ډېر پنځه سویز نوټونه پراته دي نو بیا ولې خپه یم او ولې ژاړم؟ ما هغه ته څنګه ویلي وای چې زه د ناشکرۍ په مرض اخته یم او ناشکري یو داسې سرطان دی چې لوی نه لوی ډاکټر یې هم علاج نه شي کولای!

غل چاته ویل کېږي؟

نوراحمدعایل

غل یوازې په دېوال کور ته ور اوښتونکي او په لاره کې د موبایل او کمپیوټر تښتونکي ته نه ویل کېږي تر دې بدتر او ستر غله دا دي:

√هغه ډاکټر تر ټولو ستر غل دی چې ناروغ خبر هم نه وي او ده ورته بې ضرورته یوه پنډه درمل لیکلي وي او یا یې د فیصدي لپاره لابراتوار او اېکسېرې ته د شپږ شلې معاینو لپاره لېږلی وي او یا د ناروغ بې اړتیا عملیاتونه کوي.

√هغه مستري تر ټولو ستر غل دی چې په موټر یا بله هره نقلیه وسیله کې د یوه نټ کار وي او دی د پیسو او وخت اړولو لپاره د موټر په ښخ پورې نښتی وي، خرابي یې په انجن کې وی او ده یې ټایرونه راخلاص کړي وی او بیا په خپلو تورو لاسونو د ټنډې خولې پاکې کړي او له تا څخه د یوې ورځې پوره مزدوري واخلي.

√هغه مامور او بل هر دولتي او نادولتي مسوول تر ټولو ستر غل دی چې په خپله په انټرنېټ او فیسبوک کې لګیا وي له ملګرو سره چټ کوي او تاته ووایي چې په عریضه پسې دې سبا راشه، ماسپښین راشه، اوس نه یم خلاص مصروف یم.

√هغه چارواکی که ولسمشر وي، وزیر وي یا والي او رییس وي چې په درواغو خلکو ته وعدې ورکوي او دهغوی باور او اعتماد پټوي تر ټولو سترغل دی.

√د ښوونځي یا پوهنتون هغه استاد تر ټولو سترغل دی چې صنف ته بې تیاري او امادګي د دې لپاره ننوځي چې هسې درسي ساعت واړوي؛ زده کوونکي او محصلین تختې ته یو، یو جګوي چې شاباش په نوبت راځئ کنفرانس ورکړئ یا یوه موضوع ارایه کړئ.

√هغه درملتون والا او مسوول چارواکي تر ټولو غټ غله دي چې تاریخ تېر درمل پلوري او د صحت عامې د درملتونونو د کنترول چارواکي د ۵۰ افغانیو او یا یو بوتل ټوخي شربت په بدل کې په دې هرڅه سترګې پټې کړي.

√هغه عالم ،ملا، او سپین ږیری ستر غل دی چې خلک یوه مسئله او ستونزه ور مخته کړي او دی حقه خبره نه کوي او د دې لپاره چې دواړه لوري (مدعی او مدعی علیه) راضي وساتي خبرې په خوله کې ژویي او د حق کتمان کوي او یا د یوه طرف حق هم دې بل ته ور نیمایي کړي چې راځئ سوله په نیمایي ښه ده.

غلا یوازې په موټر کې جېب وهل او په لاره دچا مخ ته په نقاب کې درېدل ندي ، یوازې هغه کسان غله ندي چې په لاسو یې ټېټوګان او خالونه وهلي وي،وښي او لاسوندي یې په لاس کې اچولي وي او لوپر غوندې ببر او دخدای په قار ککړ معلومېږي.

غل کېدای شي بهترین عطرونه ووهي ، قیمت بیه ساعتونه په لاس کړي، تکې سپینې جامې او سپین پاچونه په سر کړي، د بهترینو مارکو والا پتلونونه واغوندي او ښې خوږې خوږې خبرې هم وکړي. او کېدای شي یوه ډله خلک هم ولري چې هر وخت یې د دوی په ستاینه خوله شکولې وي.

هغه غله چې له قوارو سوډر او لوپر معلومېږي تر هغو غلو چې شیک پوشان وي او عطرونه وهي خلکو ته لا یو څه دې تحمل وړ دي، خو دا دویم ډول غله چې ځان پاک سوچه او سپین چرګان بولي هیڅ د تحمل وړ ندي.

څلور غوزان

یو سړی بهلول ته څلور غوزان ورکړل

بهلول غوزان مات کړل، ویې خوړل خو دعا یې ونکړه.

سړي وویل: غوزان (چهارمغز) دې وخوړل، نوش جان دې، خو ماته دې دعا ونکړه؟

بهلول وویل: مطمیئن اوسه که دې د خدای په لاره کې راکړې وي، خدای خپله د غوزانو د ماتېدا ټکا اوربدلې ده.

دوربښمو کاروان

عابده سپوړمۍ

د دعوت د دې ګڼې شاعره

عابده سپوړمۍ په اصل کې د وردګ ولایت مرکز میدان ښار ده خو په پیښور کې زیږېدلې ده.

دې خپلې منځنۍ زدکړې په قلعه کاشف لیسه کې تر سره کړې او په همدې کال د کانکور له لارې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته ننوته او د فراغت دېپلوم یې له یادې پوهنځي نه تر لاسه کړ.

کله چې آغلې سپوړمۍ په پوهنتون کې وه نو د شعر الهام یې پر ذهن نازل شو.

شاعرې او لېکوالې عابدې سپوړمۍ د غزل او آزاد نظم تر څنګ په پښتو نثر کې هم قلم کارولی، چې لنډې کیسې او ادبي ټوټې یې د یادولو وړ دي.

تر اوسه د سپوړمۍ دوه کتابه (شعري ټولګه "تاسره نوم د قاتل بد ښکاري) او (د جنت ملکه) شعري ټولګه.

مېرمن سپوړمۍ د ژورنالیزم سره خاصه لېوالتیا لري چې په کابل کې یې له نوا رادیو، سبا ټلویزون او بي بي سي سره د خبریالې او ویاندې په توګه دنندې تر سره کړې دي.

ATR سره یې د تحقیقي رپوټونو په برخه کې او له IWPR تر څنګ یې د سره یې هم د ریسرچ برخه کې

کاري تجربې لري

عابده سپوړمۍ د میرمن کلتوري بهیر غړې او مدني فعاله ده.

اوس مهال د اتریش په ویانا ښار کې ژوند کوي او هلته ته د "افغان ولس کلتوري ټولنې "سلاکاره غړې ده.

څه موده یې د افغانستان د ملي رادیو ټلویزون سره همکاري درلوده.

او اوس مهال د په اتریش هیواد کې د اوکسوس تلویزون سره په دري ژبه کې د خبریالې په توګه په کار بوخته ده.

ناچاپ آثار: ۱_یوه ژباړه ۲_د لنډو کیسو ټولګه

غزل

نوره د دردمن زړګي له ذاته مې در ټوله کړه
لوېږمه دردېږمه میراته مې درټوله کړه
وایي چې ژوندون کې له مستۍ نه بغیر څه نشته
ګوره راته ګوره، ماته ماته مې درټوله کړه
نن مې د جامونو پر ښیښو باندې زړه وبایله
پرې ده شپه اوږده ده بیا سباته مې در ټوله کړه
ستا د ننګ شمله چې په کابل کې وي خوره پر ما
زه به هلته غږ کړم چې له سواته مې درټوله کړه
اوس چې زه سپوړمۍ مدار نه ووتم راپرېوتم
داسې بس همداسې پې ثباته مې درټوله کړه

عابده سپوړمۍ

نظم

اې ! د لرې وطن یاره
ته پوهېږې ډسمبر دی
زړه مې غلی سا مې ډوبه
ستونی وچ دی، خوله بې نمه
د ژوندون نازکو څانګو کې ایساره
په نرۍ شمال د ژمي رانړېږم
د سحر په وړم بهرته ودانېږم
اې !د لرې وطن یاره
ته پوهېږې ډسمبر دی
سترګې مړاوې لارې خارې
ستا کاته له خدایه غواړې
خو لمن پورې د نشم رسېدلی
زما زړه هم لکه ته داسې مغروره
چې له هسکو غرونو نه را پورته کېږې
اې! د لرې وطن یاره
ته پوهېږې ډسمبر دی
بیا مې زړه دی چې د ښار کافې ته ورشم
پر همغه څوکې کېنم
چې پر کومه مخامخ راته ولاړ وې
ستا د خوښې کافې وخکوم
ستا د مینې کتاب خلاص کړم
ستا خیالونو کې توده شم
اې !د لرې وطن یاره
ته پوهېږې ډسمبر دی
الماری کې ستا پراته یادونه پاتې
ستا کالي ستا جاکټونه ټولومه
ستا د خوږ وړم اروا احساسومه
کله کله یې له ځان نه تاوومه
اې !د لرې وطن یاره
ته پوهېږې ډسمبر دی

عابده سپوړمی

نظم / عابده سپوړمی

موږې زړه د رانه ټول کړه
ستا خبرې ستا شکرې
ستا یادونه ستا لفظونه
به تل یاد ساتو په زړه کې
په خپل کار او ژوندانه کې
موږې زړه د رانه ټول کړه
ستا د ژوند ټول نښانونه
به مور ساتو په سینه کې
او ستا مینه به کړو ماته
یو پر بل مونږ
موږې زړه د رانه ټول کړه
ستا پنځه اولاده سره زر
ستا خوشبو یې ځان نه خپژې
ستا کاته یې سترګې خارې
یو د بل په مینه پایې
موږې زړه د رانه ټول کړه
اوس مو غر په زړه کې ایښی
یو پر بل باندې ډاډه یو
اوس مو اوښکې وچې شوې
اوس پرون غوندې خوار نه یو
موږې زړه د رانه ټول کړه
ستا کړه وړه مو تل په یاد دي
ستا په لاره به تل پل ږدو
چې دونیا مو شي رنګینه
ته د رب ته شي نیازبینه

غزل

د ویران ویران وطن ودان ځوانان ځي
له زخمي باغه غوټې د ګلستان ځي
مور یې لوی کړي مور یې وروزي وطن ته
یو پر بل پسې روان دي شهیدان ځي
پسرلي کې یې تازه ګلان رېبلي
پانې پانې غورځېدلي دي خزان ځي
زړه کې یې هیلې امیدونه وو ساتلي
د وطن د جوړېدلو په ارمان ځي
هغوی خدای نه لري ټول بې دینه شوي
ژني وژني له دنیا نه بې ایمان ځي
د سپوړمۍ دعا به هغه وخت رنګ راوړي
چې وحشت له ګران وطن افغانستان ځي

نظم

د ژمي یخه هوا
او ستا تاوده کاته
لکه بل اور چې مې
په زړه کې خښ شي
لکه تازه هوا د یخ مازدیګر
چې مې له سترګو سره
رنګ بدل کړي
چې ته راګورې لکه
نوې واده شوې نجلۍ
چې ځان سینګار کړي
افسانې ویښې کړي
چې ته راګورې لکه
للمه چې باران وغواړي
لکه پیکه سیوری چې
لمر کې پټ شي
لکه وچې شنډې ځمکې ته
چې نم ورسي
چې ته راګورې لکه
شپه چې شي زما په نوم
لکه مابنام ته چې
په غېږه کې پناه ورکړې
لکه ملنګ ته چې دعا ورکړې
چې ته راګورې
داسې حس لرمه
چې ارمانجنه پیغله
پس له کلونو انتظار نه وروسته
خپل میښن وویني په سترګو یې ښکل کړي
ستا د قسم وي
کاته مه سپموه
چې ته راګورې
شمه بهرته ځورلسمه سپوړمۍ
چې وي یوازې ستا پر سر ولاړه
تل راته ګوره چې مې
هیلو ته وزر ومومم
ته راته ګوره چې په خلکو باندې
ځان ووېشم ښه یې په ګران وویشم
ته راته ګوره چې مغروره شم
د غره څوکه شم
ته راته ګوره چې تل
وغوړېږم، رنګ ولرم
ته راته ګوره چې تل
ونخېږم بنګ ولرم
ته راته ګوره چې ځواني
مې شي اوږده تر پېړۍ
چې ته مې شي یوازې ټوله نړۍ
ستا د قسم وي
کاته مه سپموه

ورځې لنډې شپې اوږدې دي
سړکال هم هغسې یخ دی
لکه تېر کال چې و دواړه
هغه کال څومره زر تېر شو
سړکال ځای پرځای ولاړ دی
اې ! د لرې وطن یاره
ته پوهېږې ډسمبر دی!

د دعوت مجلې او دعوت رسنیز مرکز سره هراړخیزه مرسته زمونږ ټولو فرهنګی دنده بولم

حبیب الله غمخور
سویډن - مالمو
د ۲۰۲۱ ز کال د سپتمبر میاشت

زه د دعوت مجلې د قلمي همکار، لوستونکی او مینه وال په توګه تر ټولو لومړی د دعوت درندې مجلې چلوونکی ښاغلی محمد طارق بزګر صاحب ته د دعوت مجلې د دې نوی ګڼې د چاپولو او د دې مجلې د ۳۳ مې کلیزې له املې مبارکي وایم .

د دعوت مجلې ټولو لیکوالو، لوستونکو، مینه والو،ګډون والو او په ټوله کې افغان فرهنګیانو او فرهنګپالو نه هیله کوم چې د دې مجلې د لا نورې غښتلتیا او نړیوال شهرت لپاره هر اړخیزه معنوی او د ګډون په بڼه مادي مرسته وکړي.

د مهاجر او کډوالۍ په ستونځمنو شرایطو کې د یوې داسې پیاوړې مجلې خپرول، چاپول، او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خپلو ټولو مینه والو ته رسول اسان، ساده او د هر چا د وس کار ندی.

ډیر ګران بزګر صاحب! د دعوت مجلې سره ستاسو د همېشنۍ مینې برکت او ستاسو د علمي او فرهنګي نوښتونونه د پراخې استفادې ثمره ده چې د دعوت مجلې مینه وال او لوستونکي مخ پر زیاتېدو دی او په بهر کې د یوه نشراتي ارګان په توګه د نړۍ د پرمختللو او بې شمېره امکاناتو لرونکو رسنیو سره اوږه پر اوږه پرمخ درومي.

دا تاسو هڅاند یاست، چې په نه ستړې کېدونکي ډول دا فرهنګي رسالت پرمخ بیایاست او د هغه د پیاوړتیا او پرمختګ لپاره مو ډیرې هڅې کړې چې دا خپرونه مو د نړۍ د خپرونو سره جوګه کړې ده، ستاسو دا ستر خدمت به تل د افغاني رسنیو په تاریخ کې پاته وي.

د ویاړ خبره ده چې دعوت نه یوائې افغانانو ته په پښتو او دری بلکه د بهرنیانو لپاره په انګلیسي او نارویژي ژبو په زړه پورې لیکنې پخپلو پاڼو کې خپروي، چې د دې مجلې له نړیوال شهرت او نړیوالو لوستونکو پیدا کېدو سره لویه مرسته کړېده .

ماته معلومه ده چې تاسو دا دعوت خپرونه په کومو امکاناتو پیل او همدا اوس ئې په کومو امکاناتو پر مخ وړی.

ډیر دوستان به دا فکر کوي د ګډون کونکو د ګډون پیسې خورا ډیرې او پدغو پیسو ئې نشروی، خو داسې نده او نه هم د ګډون په پیسو پدې پراخه پیمانه د دې ټولو ته ګراني خپرونې رسول ناشونی کار دی. ماته ستاسو له نږدې دوستانو څخه یو وخت دا خبره کړې وه چې دبزګر صاحب کورنۍ هغه ته ویلي: اوس چې دي دا کار پیل کړی دوام ورکړه مورږ به ناروې کې وچه ډوډۍ وخورو خو ته خپله نشریه خپروه، مورږ درسره یو. ځکه مې وړاندې وویل چې تاسو د یو نیکمرغه او خوشبخت فرهنګی شخصیت په توګه دا ویاړ لرې چې کورنۍ مو ملاتړلې درسره ولاړه ده . ستاسو هڅې د ستاینې وړ دي چې په دومره بوخت ژوند کې مو شپه او ورځ پرځان یوه کړې او دغې خپرونې د ژوندي ساتلو ته مو اوږه ورکړ ېده، په دغه لار کې ستاسو د لا زیاتو بریا لیتوبونو په هیله.

د دعوت رسنيز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه

دعوت رسنيز مرکز ويارې چې د خپلو نورو فرهنګي فعاليتونو په څنګ کې چې هغه د دعوت مجلې خپرول، د دعوت ميډيا ۲۴ او افغان سباوون ويبپاڼو تر څنګ په دې وروستيو يو شمېر په زړه پورې، مهم او ارزښتمن کتابونه د خپلو خلکو د چوپړ له پاره خپاره کړي دي. چې دلته په لنډ ډول د کتاب پېژندنه او د لاس ته راوړلو طريقه او د کتاب بيه او پوستي بيه ښوول کيږي.



۱/ يوه افغانه ښاپيرې په کيف کې (لومړی چاپ 1919)، ليکوال محمد طارق بزګر

چې د يوې ريښتنې پېښې له مخه ليکل شوي او د افغان جګړې د ناخوالو، نتيجو ، تاثيراتو او په ټولنه او خلکو يې اغيز، ښځه په افغاني ټولنه کې او د يوې افغاني د دردونکې او تريخ ژوند کيسه چې بلاخره بدلمنې ته مجبوريږي.

د کتاب بيه ۱۵۰ نارويژي کرونه يا د هغې معادل او پوستي د ليږې ۲۰۰ نارويژي کرون (د نړۍ ټولو هېوادونو ته).

۲/ ملي رسالت (د محمد طارق بزګر کارنامې) ليکوال ارواښاد مصطفی عمرزی. دا کتاب چې د دعوت رسنيز مرکز او مسئول مشر بيلابيل فعاليتونه او د لسګونو مطرحو افغانانو نظرونه هم په بر کې لري او د دې کتاب ژبه پښتو او دري ده. کتاب د خرڅ (پلور) له پاره نه دی خو مينه وال يوازې ۱۰۰ کرون يانې (۱۰) ډالر د پوستي مصرف په ورکړې سره کتاب تر لاسه کولای شي.



۳/ زمور کاکا مُراد (ډاکټر ناکامورا) د ژوند، کار، فعاليتونو او د دغه ستر انسان په اړه د لسګونو افغانانو نظرونه او نور ډير څه د عکسونو سره راغونډ شوي دي، د کتاب ژبه پښتو او دري ده، دا کتاب هم په وړيا ډول يوازې د پوستي مصرف (۱۰۰ نارويژی کرون يا ۱۰ ډالر) په ورکولو سره هر افغان چې د نړۍ په هر ګوټ کې وي او غواړي ورته ليږل کيدای شي.



۴/ کله چې طوطي والوت د ماشومانو له پاره د يو نارويژي کتاب ژباړه ده د کتاب ليکوال انتون ايسپيرو او ژباړن يې محمد طارق بزګر دی. دا کتاب د ماشومانو له پاره په خوږه پښتو ژباړل شوي او په ښکلی قطع او صحافت چاپ شوی دی. د کتاب بيه ۱۰۰ کرون يانې (۱۰ ډالر)

ده او د پوستي مصرف سره ۱۵۰ کرون یا ۱۵ ډالر ده د نړۍ په هر ګوټ کې هېوادوال کولای شي دا کتاب د دعوت رسنیز مرکز څخه د قیمت په بدل کې وغواړي.

۵/ په انګلیسي ژبه د کیف ښاپیرۍ (An Afghan Beauty in Kiev) چې لیکوال یې محمد طارق بزګر دی د یوې ریښتنې کیسې او پېښې له مخې لیکل شوی چې په ټوله د جنګ جګړو د ترخو تاثیراتو له امله د یوې افغانې د ژوند د ناخوالو کیسه چې په پای کې بدلمنۍ ته مجبوریږي. د دې کتاب بیه ۱۰۰ نارویژي کرون یانې ۱۰ ډالر ده چې د پوستي مصرف سره ټول ۱۵۰ کرون یا ۱۵ ډالر کیږي چې د قیمټ په ورکړې سره د نړۍ هر ګوټ ته مینه والو ته لیږل کیږي. دا کتاب په بهرنیو هېوادونو کې ستاسو بهرنیو دوستانو، استادانو، د کار همکارانو، ګاونډیانو، ملګرو له پاره هم یوه ښه ډالۍ ده.

سره پیشو، کوتره او تور سپی

یوې سړي پیشو یوه کوتره نیولی او ځغلوی یی چی نابېره ورته د تور سپی پام شو، ورټوپ یی کړ کوتره یی تری راخیله کړه او په داسی حال کی چی له خولی یی ناری ورته څخېدی، تور سپی کوتری ته وویل :
شکر وباسه چی له پیشو می وژغورلی «را ازاده» شوې!
کوتری وویل: هو له پیشو راخلاصه شوم، خو اوس د سپی تر ژامی لاندې یم .
پر ما یی څه فرق، یا «سړي پیشو» خوړلی یا «تور سپی!»



۶/ نارویژي - پښتو قاموس Stor Norsk-Pashto Ordbok چې د محمد طارق بزګر د ۱۷ کلونو د زیار او هڅو نتیجه ده چې ټول ۵۰۰۰ لغاتونه او کتاب ۱۰۰۰ مخونه لري په لوړ معیار چاپ او له نارویژ بر سیره په سویډن او ډنمارک کې هم هېوادوال ترینه ګټه اخیستلای شي. په دې کتاب سره د هر مسلک د خاوندانو ستونزې تر ډېره حلیږي یا په بل عبارت د لومړي ټولګي تر پوهنتونه، په هر ډول کاري چاپیریال او په کور کې د والدینو له خوا د ماشومانو ژبنۍ ستونزو په حل کې پوره مرسته کوي، او والدین به بیا د دې ضرورت نه وینې چې خپل لور یا زوی ته ووایي وښه زه پرې نه پوهېږم. د نارویژي ژبې د هر ډول لغاتو مانا په اسانه په کتاب کې پیدا کولی شئ دا باید هم یادونه وشي چې د یو زیات شمېر لغاتونو، نومونو او نورو څیزونو عکسونه د اسانه پوهاوي په پار د کتاب په پای کې ځای پر ځای شوي دي چې دا په اسانه د پوهاوي په برخه کې د قاموس کارونکو سره مرسته کوي. د دې کتاب شتون په هر افغاني او پښتنی کور او ستاسو په کتابتون کې ضروري او د نارویژي ژبې په حل کې ستاسو ښه مرستندوی دی. د دې کتاب بیه ۸۰۰ نارویژي کرون (هغه چې د دعوت رسنیز مرکز څخه په مستقیم ډول تر لاسه کوي) او د پوست د لیږې بیه یې په نارویژ، سویډن او ډنمارک کې ۹۵۰ کرون ده.

د پاسنیو کتابونو مینه وال او غوښتونکي کولای شي په حضوري ډول یې د لیلیستروم په ښار (نارویژ) کې یې د دعوت رسنیز مرکز څخه واخلي او یا هم د بانک د لارې پیسې د دعوت میډیا په اکاونټ AC#0530 22 94668 او یا د دعوت رسنیز مرکز د ویپس په شمېره شمېره Vipps: #557320 د خپل بشپړ پوستي ادرس سره راولیږي ستاسو د خوښې او اړتیا وړ کتاب به ډېر ژر تر تاسو درورسیږي.

د دعوت رسنیز مرکز دفتر Dawt Media Center
Voldgt. 37A
2000 Lillestrøm, Norway
Tel: +0047 63844384
Mobil: +0047 90856195

DAWAT

www.dawatmedia.com

ISBN: 978-82-691395-2-5

Vol. 241 Sep. 2021

DAWAT is independent publication. Established in 1988. DAWAT is not associated with any political organization. The views and ideas expressed in DAWAT are those of the writers and are not necessarily those of the editor. All letters and articles sent to the editor are welcomed but will not be returned.

Editor and Publisher: M. Tariq Bazger,
Dawat Media, V/ M. Tariq Bazger
Voldgt. 37A, 2000 Lillestrøm, NORWAY

Tel. +47.63844384 Mobil. +47-90856195, dawatmedia@gmail.com
Annual Subscription US$ 50
AC# 0530 2294668 BIC (SWIFT-adresse): DNBANOKKXXX
A/C for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

LESSONS FROM AFGHANISTAN

By Thijs Berman

In twenty years, the drama of the Afghan people has seen three acts. The first act was marked by intense relief at the ousting of the Taliban regime and the hope for a better future, in particular for women and girls.

Many Afghans shared in this euphoria and optimism, putting their faith in the promises of democracy and freedom for all. They cast their votes in elections which they believed would herald this new era of freedom, courageously risking their lives to make sure their voices were heard in the new Afghanistan.

That faith and courage deserved to be respected by the international community and supported by transparent and long-term investment in democratic institutions, inclusive political dialogue led by the Afghan people, and zero tolerance for corruption and nepotism. "Stability does not come from military might."

But then came the second act, when these high hopes gave way to disillusion, cynicism and bitterness at broken promises. Accountable, transparent governance by an administration which came to power in legitimate and inclusive elections are the foundations of a true democratic society. Sadly, in Afghanistan, the legitimacy and credibility of the Afghan government were undermined by corruption and fraud, enabled by an international community which all too often turned a blind eye to the failings in the governments it helped create. The US-led coalition showed only half-hearted attempts to stem the growth of corruption and failed to speak out against massive fraud in successive elections. This opened the way to the gradual erosion of the credibility and legitimacy of the Afghan administration.

Military missions, however big and expensive they may be, cannot solve societal questions. Stability does not come from military might. It comes from good governance and the growth of strong democratic institutions in an inclusive social fabric within the existing culture.

It's not enough to plough money into a country without proper oversight, accountability, and investment in the democratic infrastructure. And it's not as simple as putting in place elections and institutions. Democracy needs to come from within. It is embodied by a set of values – from accountability to collaboration and dialogue – shared by the people and those who represent them.

None of this happened in Afghanistan. Instead, the people who believed in these promises of a better future now hide behind locked doors, terrified of what the future will bring. These are the women who believed the promises of an equal and inclusive society and put themselves at considerable risk to enter politics; the young people who took up the mantle of human rights defenders; the journalists who trusted that they would work in a free and fair society.

And so Afghanistan enters its third act. The corrupt government has fallen, and the Taliban are back. It's a third act of utter despair and chaos. The lessons from Afghanistan can be applied elsewhere, but they could also pave the way for another act in Afghanistan itself. There have already been protests in several cities. The younger generation clearly doesn't give in so easily – people are not ready to abandon their freedoms after twenty years. They need the world's support.

DAWAT MEDIA ISSUES A NATIONAL REQUEST

The Dawat Media Center has committed itself to preserving the historical and cultural heritage of the Afghan nation. A process has been developed to document and archive national, cultural, and historical information about Afghanistan and its people. Such information will eventually become a part of a national archive. In doing so, it is our hope that our future generations will have the opportunity to easily access accurate information regarding their nation and its heritage. Recent efforts by Dawat have resulted in the collection of historical and cultural materials such as films, books and other forms of literature. We are now calling upon all our respected countrymen to assist us in this effort to preserve our national identity. Your contribution may be in the forms of documentary films, videos, cds, vcds, dvds, books, magazines, newspapers, paintings or any other form of media available. Items submitted may be originals or copies and, in any language, desired. All items will not only be stored as part of a national archive but will also become accessible to the general public. It is said that rivers are created by many small droplets of water, as such the small efforts of each individual will eventually contribute to a product, we can each express pride in.

Once again, we call upon individuals within all nations to fulfill their duty as Afghans and contribute to the preservation of their historical, cultural and national identity. It is time for us to act, as actions speak louder than words.

M. Tariq Bazger,
Editor and publisher

wwww.dawatmedia24.com
www.afghansabawoon.com

LET AFGHANS DETERMINE THEIR OWN FUTURE IN THEIR OWN COUNTRY AFGHANISTAN